

فاریاب ۴۶

## گردیز ښــار دولت زیو ســیمې کانکریټي ســرک او سرک غاړې ویالو جوړولو کار روان دی


پکتیا ۴۷

گردیز ښاروالی تر بشــپړې پاملرنې لاندې د ملګرو ملتونو دفتر یونپس پر مالي لګښــت، سرکال لپاره ګردیز ښار کې لســګونه پروژې پلي کیږي، چې ورسره هــم مهاله زرګونه کسانو ته کاري فرصتونه رامنځته شوي دي.

د ګردیز ښــار پنځمې ناحیې دولت زیو سیمه کې د ۶۰۰ مترو پــه اوږدوالي او ۵ مترو پلنوالي په لرلــو د کانکریټي ســرک او ورته اوږدوالي د سرک یوې غاړې ویالو جوړولو کار جریان لري.

ګردیز ښــاروالی تخنیکي ټیــم د ولایتي ادارو ګډ هیئت سره یــو ځای د روانو پروژو د کار جریان څارلي او کارونو د ښــه ترسراوي په موخه، اړونده شرکتونو ته د ســمون سپارښتنې کوي.

دولت زیو ســیمه کې د سرک دغه پروژه د ګردیز ښاروالی په څارنې د ملګرو ملتونو دفتر د یونپس په لګښت سره پلي کیــږي، چې له یــادې پروژې څخه د ســیمې اســتوګنو ســلګونه کورنی برخمنې کیږي او د کار په جریان کې یې هره ورځ د ســیمې لسګونه اوســېدونکي په کار بوخت دي.

## غزني ښــار د څلورمــې ناحیې سرپرســت مدیر له وکیلانو سره ولیدل



غزني ۴۸

د غزني ښاروالی د څلورمې ناحیې سرپرست مدیر رحمت الله منصور د یادې ناحیې د کلیو له وکیلانو سره مشــورتي ناسته ترسره کړه.

ناسته د ښــاري نظم صفايي محصول، د خدمتونو کیفیت او خلکو ته د ښاري اسانتیاوو رسولو په موخه جوړه شوې وه.

د ناستې پر مهال د ناحیې وکیلانو خپلې ستونزې، نظریات او وړاندیزونه له مسؤول مدیر سره شریک کړل.

ګډونوالــو په ځانګړې توګــه د صفايي محصــول د راټولولو ځرنګوالي، د کثافاتو د انتقال، د سرکونو د پاک ساتلو او نورو خدماتي موضوعاتو په اړه خبرې وکړې.

د ناحیې سرپرست مدیر ښاغلي منصور وویل؛ د ښار پاکوالی، نظم او خدمت د خلکو او اداري ګډ مسؤولیت دی.

موږ هڅه کوو د وکیلانو نظریاتو ته ارزښــت ورکړو او د ښاري نظم د تأمین لپاره له هغوی سره اوږه په اوږه کار وکړو.

ښاغلي منصور ډاډ ورکړ چې د خلکو ستونزې به له اړوندو ادارو سره شریکې او د حل لپاره به یې لازم اقدامات ترسره کیږي.

همدارز پریکړه وشوه چې دا ډول ناستې به په دوامداره توګه ترسره کیږي، څو د خلکو غږ واورېدل شي او ښاري خدمتونه لا مؤثر شي.

## مدیریت تنظیف و سرسبزی شاروالی انجیل ولایت هرات، غــرس گل‌های زینتی و کشــت چمن در پارک وحدت واقع در گذر سعادت ناحیه اول را آغاز نمود . قرار اســت این پارک با انواع گل‌هــای زینتی و چمن کاری تزئیــن و به بهره برداری شهروندان برسد.


هرات ۴۹

## اسعداباد ښار کې د خپل سرو کړنو د مخنیوي په موخه په ورځني ډول څارنه ترسره کیږي



کنړ ۵۰

د اسعداباد ښاروالۍ د ښاري خدمتونو برخې مسؤول ذاکر الله همدرد وایي؛ په تیره یوه اونۍ کې یې د ښار په بېلابېلو برخو کې د خوراکي توکو د کیفیت سربېره د کمیت برخې ته هم ځانګړې پاملرنه کړې ده او هغه هټۍ یې تړلې دي چې د خوراکي توکو وزنونه یې کم وو.

نوموړی وایي؛ په دې برخه کې د عامه ښاریانو همکاري د پام وړ ده چې د ځانګړې شمیرې له لارې یې خپل شکایتونه ثبت کړي وو.اسعداباد ښار کې د خپل سرو

کړنو د مخنیوي په موخه په ورځني ډول څارنه ترسره کیږي

د اسعداباد ښاروالۍ د ښاري خدمتونو برخې مسؤول ذاکر الله همدرد وایي؛ په تیره یوه اونۍ کې یې د ښار په بېلابېلو برخو کې د خوراکي توکو د کیفیت سربېره د کمیت برخې ته هم ځانګړې پاملرنه کړې ده او هغه هټۍ یې تړلې دي چې د خوراکي توکو وزنونه یې کم وو.

نوموړی وایي؛ په دې برخه کې د عامه ښاریانو همکاري د پام وړ ده چې د ځانګړې شمیرې له لارې یې خپل شکایتونه ثبت کړي وو.

## کندهار ښار په ۱۵ ناحیه کې د میان جوی زابر د پاکولو چارې جریان لري



کندهار ۵۱

د کندهار ښاروالۍ تنظیفاتي پرسونل له خوا د ۱۵ ناحیې اړوند د میان جوی له زابر څخه د کثافاتو را ایستلو چارې روانې دي.

چې تر دې دمه پورې شاوخوا ۲۵۵۵ متره په اوږدوالي له خځلو او کثافاتو څخه پاک شوی دی.

یاد زابر له ډیرې مودې راهیسې د کثافاتو او خځلو څخه ډک وو، چې له امله یې د سیمې اوسېدونکې له ګڼو ستونزو سره مخ کړي و، دا مهال د تنظیف کارکوونکې د یاد زابر د پاکولو په چارو بوخت دي او ډېر ژر به د پاکارۍ دا چارې بشپړې شي.

## پروژهٔ کانکریت ریزی کوچه ها و آبروهای شهرک سه صد فامیلی کندز عنقریب به بهره‌برداری می‌رسد



کندز ۵۲

پروژهٔ کانکریت ریزی کوچه ها و آبروهای شـهرک سـه صد فامیلی ولایت کنـدز تکمیل و عنقریب مورد بهره‌برداری قرار خواهند گرفت.

این پروژه شـامل کانکریت ریزی هفت سرک به طول ۱۵۰۰ متر و اعمار آبرو دو طرفه سرک‌ها به طول ۲۸۰۰ متر می‌باشد که به هزینه حدود ۲۲ میلیون افغانی توسـط شاروالی کندز تطبیق می‌گردد.

با اجـرای این پروژه مشـکلات گل و لای و گرد و خاک این شهرک برطرف شده و شهروندان ساحات مذکور به زیرساخت های ترانسپورتی و سهولت‌های اجتماعی دست می‌یابند.

شـاروالی کندز از شـهروندان محل توقع دارد تا در حفظ و نگهداشـت کوچه ها و سرک های شان توجه داشته باشند تا از تخریب زودهنگام آن جلوگیری بعمل آید.

## از ساحات نواحی دوم و سوم شهر مزارشریف نظارت صورت گرفت



مزار شریف ۵۳

به اسـاس هدایت حافظ عبدالرحمن همت، شـاروال شهر مزارشریف و به منظور تحکیم و رعایت نظم شهری از ساحات نواحی دوم و سـوم شـهر توسـط تیم تنظیم مارکیت های شاروالی مزارشریف نظارت صورت گرفت.

**در جریان این نظارت**

صفـت الله صادقـی، آمر تنظیـم مارکیت های شـاروالی مزارشریـف و عزیزالله عزیزی مدیر عمومـی تنظیم مارکیت های شـاروالی مزارشریف از این سـاحه دیدار کردند و برای همه اصناف و دست فروشان هدایت سپردند تا پیاده روها را تخلیه نمایند تا باعث مزاحمت شهروندان نشود.

در ایـن نظارت برای تمام دکانـداران و اصناف مختلف این سـاحه در مورد نظم شـهری و رعایت فرهنگ شهرنشـینی هدایت های لازم از طرف تیم مذکور سپرده شد.

## جلال اباد ښاروالۍ مرستیال د ښاروالۍ له داخلي شـعباتو لیدنه ترسره کړه




جلال اباد ۵۴

د جلال اباد ښاروالۍ مرستیال مولوي محمد اسحاق سعید، د څار او ارزونـې امر انجنیر عبدالله نیکمل، د مجالسـو او شـوراګانو امر حشـمت الله خان او د کارکوونکو لوی مدیر محمد شـعیب مسکینیار د ښـاروالۍ د داخلي شعباتو نه د لیدنې پرمهال د کارکوونکو له ورځنیو چارو څارنه ترسره کړه او په بېلابېلو برخو کې یې کارکوونکو ته لازمې سپارښتنې وکړې.

مرستیال ښـاروال او ورسره مل پلاوي د حاضرۍ په پابندۍ، په ورځنیو چارو کې صداقت او اخلاص او د نورو په کارونو کې د مداخلـې او لاسـوهنې څخه د ځان سـاتنې پـه موخه کارکوونکو لارښوونې وکړې.

د ښاروالۍ کارکوونکو د بېلابېلو کاري برخو مسؤولینو د چارو د ښه ترسراوي او له مراجعینو سره د ښه سلوک ژمنه وکړه.

د جلال اباد ښاروالۍ رهبري هڅه کوي چې د ټولو کارکوونکو او مراجعینو سـتونزو ته په وخت رسـېدنه وکړي او چارې په منظمه ډول پرمخ بوځي.

## پروژهٔ کانکریت ریزی سرک اصلاحی بازار بالای شهر ایبک واقع سرای مرحوم رئیس قاسم جان آغاز گردید



سمنګان ۵۵

پروژهٔ کانکریت ریزی سرک اصلاحی بازار بالای شـهر ایبک واقع سرای مرحوم رئیس قاسم جان به طول ۶۰ متر به عرض ۷ متر و به ضخامت ۲۰ ثانتی متر به هزینه حدود نیم میلیون افغانی اعمار و با هماهنگی شاروالی شهر ایبک تطبیق می‌گردد.

با تطبیق این پروژه در ساحه مشکلات گِل، لای، گرد و خاک سرک برطرف گردیده و شهروندان به سهولت‌های اجتماعی و شهری دست خواهند یافت.

در همین حال مسؤولین در شاروالی شهر ایبک از جریان این پروژه عام المنفعه بازید و نظارت به عمل آوردند و از این اقدام بـه موقع وارثین مرحوم رئیس قاسـم جان اظهار سـپاس و قدردانـی نمودند و از سـایر شـهروندان و تاجـران محلی سمنگان خواستند تا در قسـمت آبادانی و شگوفای شهر با شـاروالی شـهر ایبک همکاری نموده و مسـوولیت دینی و شهروندی خویش را ادا سازند.

# د ولایاتــو او ولســوالیو ښــاروالیو د فعالیتونو او لاسته راوړنو خبري اونیزه

## میدان ښــار کــې د فــاضلاب د تخلیې پــه موخه ځانګړې ساحه برابره شوه




د ښاري خدمتونو د لا ښه تنظیم، روغتیایي معیارونو او ښاري نظم د ټینګښت په موخه، د میدان ښار ښاروالۍ له لورې، د سپټیک خاه ګانو د فاضلاب د تخلیې لپاره غازي کریم خان تالار ته څېرمه ځانګړې ساحه برابره او په یاده ساحه کې کنده وکیندل شــوه، ترڅو د فاضلابو بې نظمه تخلیه کنټرول او د چاپېریال ککړتیا راکمه شي.

## د مهترلام ښاروالۍ له لورې د پاک چاپېریال ساتنې د عامه پوهاوي دویمه کمېټه جوړه شــوه




د لغمان ولایت مهترلام ښاروالۍ د ښاري حکومتولۍ امریت له لورې د ښاري پاکوالۍ، نظم او د عامه پوهاوي د پراخولو په موخه، د ښوونځیو د زده‌کوونکو او ښوونکو په منځ کې د عامه پوهاوي کمېټو جوړولو لړۍ دوام لري؛ چې په همدې لړ کې، د ډاکټر عبدالله لغماني لیســه کې د پاک چاپېریال ساتنې کمېټه جوړه شوه.

د یــادې کمېټې د جوړېدو پر مهال، د مهترلام ښــاروالۍ د ښاري حکومتولۍ امر عباس عمري وویل، چې د دې نوښت موخه د زده‌کوونکو او ښوونکو ترمنځ د پاک چاپېریال ارزښت ته د عامه پوهاوي لوړول او د ښــاري نظم د ټینګښت لپاره د ټولنې د همکاریو پراخول دي، نوموړي زیاته کړه چې د یادې برنامــې لومړی پړاو د مهترلام ښــار د پنځمې ناحیې اړوند د مهترلام ښوونځي څخه پیل شوی، چې ټاکل شوې ده دا به د ښار په ۱۲ ښوونځیو کې تطبیق شي.

عباس عمري د ډاکټر عبدالله لغماني لیســې له مدیر امان الله تورجان او ښــوونکو وغوښــتل چې د پــاک چاپېریال د ارزښت په اړه زده‌کوونکي ورزي تر څو دا پیغامونه خپلو کورنو او کلیو ته ورسوي.

د لیســې مدیر، اســتادانو او زده‌کوونکو د ښــاروالۍ له دې ابتــکار څخه مننه وکړه او ژمنه یې وکړه چې د پاک چاپېریال ســاتنې په برخه کې به فعاله ونډه واخلي او د ښاري نظم د ټینګښت لپاره به د ښاروالۍ له پیغامونو ملاتړ وکړي.

د یادونې وړ ده چې د پاک چاپېریال ساتنې او عامه پوهاوي کمېټې ته د ښاروالۍ له لورې لاسي کراچۍ، جارو، سایه‌بان، کثافت‌داني، بېلچې، دست‌کش، خولۍ او د ښاروالۍ نارنجي یونیفورم هم ورکړل کېږي، ترڅو د دې وســایلو په مرســته د خپلو چاپېریال د پاکوالي چارې په عملي ډول پرمخ یوسي.

## یوه پانګوال د خوست ښاروالۍ د تنظیف کارکوونکو ته کالي ډالۍ کړل




په خوست کې د حبیب‌الله صمیم رخت پلورنځي مسؤولینو د ښاروالۍ د تنظیف مدیریت له لارې نږدې ۱۰۰ جوړه کالي د تنظیف پر زحمت‌کښو کارکوونکو ووېشل.

د یاد پلورنځي مسؤولین وایي، چې د دې مرستې موخه د دغو خواریکښو هڅو ته درناوی، ملاتړ او تشویق دی.

هغــوی زیاتوي، چې هڅه بــه کوي تر دې وروســته هم په بېلابېلو برخو کې له ښاروالۍ سره همکاري وکړي.

ښاروالۍ بیا له ټولو درنو او بااحساسه ښاریانو غوښتنه کوې، چې د ښار د پاک ســاتلو په برخه کې له تنظیف کارکوونکو سره پوره همکاري وکړي، څو خپل ښار پاک، ښکلی او د ژوند لپاره مناسب وساتو.

## ترینکوټ ښار کې د یو شمېر تخریب شویو اشتهاري لوحو د بیا ترمیم چارې پیل شوې




د ترینکوټ ښاروال مولوي عبدالرشید هدایت الله په لارښوونه د یاد ریاست اړوند تخنیکي، مســلکي او ښاري حکومتولۍ مدیریتونو لخوا ښار کې د یو شمېر اشتهاري لوحو د بیا ترمیم چارې پیل شوې.

د یاد ریاست مســؤولین وایي؛ دا چې په تیرو وختونو کې یو شــمیر لوحې د زیاتو توفاني بادونو له کبله تخریب شوې وې کوښښ کوو چې د یادو لوحو تر څنګ نږدې راتلونکې کې د ورته نورو عامه ابادیو د تخریب شــویو برخو د بیا ترمیم چارې هم ترسره کړو.

بل لور د یاد ریاســت د تدارکاتو او خدمتونو مدیر عبدالمتین د هټیوالو او شرکتونو مســؤولینو تــه ډاډ ځرګند کړی چې د اشــتهاري لوحو د بیا ترمیم چارې به ډېــر ژر ترسره شي، کاروباریان کولای شي چې د خپل کاروبار د ودې په موخه د ښار په بېلابېلو ګڼ مېشــتو ځایونو کې په قانوني توګه خپل تجارتي اعلانونه د تیر په څیر نصب کړي.

## ترینکوټ ښــار د څلورمــې ناحیې اړوند د یو کانال چارې ۱۰۰ ســلنه بشپړې شوې





ارزګان ولایت مرکــز ترینکوټ اړوند څلورمه ناحیه کې د یوه کانال او ۵۵ په اوږدوالي سره د یوه اســتنادي دېوال چارې (ان ار سي) مؤسســې په مالي ملاتړ او د ترینکوټ ښاروالۍ ریاست په همکارۍ بشپړې او ګټې اخستنې ته وسپارل شوې.

د یاد ریاســت د تخنیکي او مســلکي چــارو عمومي مدیر خالقــداد امیني وایي چې د یادو پروژو څخه د یاد ریاســت انجنیري ټیم پر وخت د نظــارت ترڅنګ د یادې پروژې پلې کوونکي شرکت مســؤولینو ته د کارونو د ښه کیفیت په موخه سپارښتنې هم ترسره کیدلې.

نومــوړي زیاته کړه چې دغه پــروژه چې د ان ار سي په مالي لګښت د ترینکوټ ښاروالۍ ریاست تر چتر لاندې د ترینکوټ ښار په ۲ جلا جلا سیمو کې د ۶۴۲ متره په اوږدوالي سره په اساسي ډول د چریو او د یوه کانال او استنادي دیوالونو رغول پکې شامل دي پیل شوې وه، چې ټول لګښت یې څه باندې ۲ میلیونــه افغانۍ دی، چې د دې پروژې له ډلې نن د خیرو کاریز او شهیدانو د تپې ترمنځ د کانال چارې بشپړې او ګټې اخستنې ته وسپارل شوې، چې ډېر نږدې راتلونکې کې به د یادو نورو چریو چارې هم بشپړې او د افتتاح مراسم به یې ترسره شي.

د یادولو وړ ده چې ترینکوټ کې ګڼو مؤسســاتو په مختلفو برخو کې پروژې پلې کړې خو ان ار سي یوازینۍ مؤسسه ده چې یاد ولایت کې یې په ښه کیفیت او اساسي ډول کار کوي.

## ګردیز ښار خواجه حســن سیمې پنځه کلیوالي کوڅو د کانکریــټ کولو لومړنۍ چارې ګړندۍ رواني دي




ګردیز ښــار دویمې ناحیې اړوند، د خواجه حسن سیمې خلکو لپاره د پنځو کوڅو اساسي ډول جوړولو پروژې کارونه روان دي او پر ټاکلي وخت به یې کارونه معیار سره برابر ترسره شي.

د ګردیز ښــار په خواجه حســن ســیمه کې د (۷۲۵) متره په اوږدوالي دغه سړک د سیمې خلکو لومړنۍ غوښتنه وه، چې د کارونو ترسراوي سره به یې د تګ راتګ شته ګڼې ستونزې حل شي.

ګردیز ښــاروالۍ ټولو درنو ښاریانو ته ډاډ ورکوي، چې له خپلې پراختیایي بودجې د پلان شــویو ځینو لویو رغنیزو پروژو د پلي کیدو ترڅنګ، د همکاره مؤسســاتو په جلبولو کې زیار باسي؛ ترڅو د ښــار رغونه، پراختیا، ښــکلا او تنظیم تر بل هر وخت بسیاری بدلون وموني.

## مزارشریف ښار کې د کمال نبي زاده څلور لارې بیارغولو او شاوخوا سړک پراخېدو چارې پیل شوې



مزار شریف ۶۲

د مزارشریف ښار معیاري ودې، ښکلا او پرمختګ په موخه او د مزارشریف ښاروال حافظ عبدالرحمن همت په هلو ځلو بلخ ولایت مقام ته څېرمه د کمال نبي زاده څلور لارې بیارغولو او شاوخوا سړک پراخېدو چارې پیل شوې.

د نوموړې څلور لارې بیارغولو چارو کې د نویو کټارو جوړولو او نصبولو، د مرمر ډبرو لګولو، د اوبو فوارې جوړولو، روښـــانتیا، سمسورتیا، رنګمالۍ د ترافیکي ګنې ګوڼې کمولو په موخه د څلورلارې شاوخوا سړک پراخېدو چارې شاملې دي.

چې د نوموړې څلور لارې بیارغولو چارو بشـــپړېدو سره به د نقلیه وســـایطو تګ راتګ ته اسانتیاوې برابرې او یادې سیمه کې به ځانګړې ښکلا رامنځته شي.

## پــه دویمه ناحیه کې د ښــاري نظم د ټینګښــت په موخه نظارت ترسره شو



کندهار ۶۳

د کندهار ښاروالۍ اړوند د مارکیټونو تنظیم امریت، د ښاري نظم کمېســیون، امنیه قومندانۍ او ترافیکو مدیریت په ګډه همکارۍ دا ځل د ښــار په دویمه ناحیه کې د ښــاري نظم ټینګښت په هدف نظارت ترسره کړی.

په دې نظارت کې مســؤولینو له جامــع عمر څخه د دویمې ناحیې تر چوک پورې هغــه پیاده‌رووته چې د دوکاندارانو له خوا د موانعو په اېښودلو سره د خلکو پر مخ بند شوي و او ترې تجارتي ګټه اخیســتل کېده بېرته خلاص کــړل. دغه راز د ښاري نظم د اصولو او قانون له مخې یې دوکانونه هم وتړل شول.

همداراز، د ښاري نظم کمېســیون لهخوا ټولو دوکاندارانو او رېړۍ چلوونکو ته سپارښتنې وشوې چې د عامه لارو له بندولو څخه ډډه وکړي او د ښاري نظم اصولو ته جدي پاملرنه وکړي.

کندهار ښــاروالۍ د ښــاري بې‌نظمۍ د لمنځه وړلو لپاره خپلې نظارتي هڅې پــه دوامداره توګه تــرسره کوي؛ ترڅو ښاري چاپېریال لا ښکلی، منظم او د ژوند لپاره آرام وي. هیله ده ټول ښاریان د ښاري نظم په ټینګښت کې خپله همکاري ترسره کړي.

## غزني ښــار د رغنیزو چارو د همغږۍ په موخه ناســته ترسره شوه



غزني ۶۴

د غزني ښاروالۍ د سکتوري او مسلکي چارو امریت په نوښت د کور او ښار جوړولو له ریاست سره یوه ګډه ناسته ترسره شوه.

چې هدف یې د ښاري ستونزو د حل د رغنیزو چارو د همغږۍ او د پرمختیایي پلانونو د اغېزمن تطبیق لپاره ګډ اقدام و.

یاده ناســته د ښاروالۍ د سکتوري او مسلکي چارو امر فضل احمد مدني په مشرۍ جوړه شــوې وه؛ چــې پکې د ناحیو مدیرانو، مســلکي انجینرانو د کور او ښــار جوړولو ریاست یو شمېر استازو ګډون درلود.

په ناســته کې د غزني ښار د رغنیزو پروژو د څرنګوالي ښاري نقشو تعدیلاتو او نورو اړوندو مسایلو په اړه مفصل بحث وشو.

ګډونوالو د موجودو ســتونزو د حل د کارونو د معیاري تطبیق او د ښــاري نظم د ټینګښت لپاره خپل نظریات او وړاندیزونه شریک کړل.

ښاغلي مدني د خبرو پر مهال وویل: ښاروالۍ هڅه کوي چې د ښاري ستونزو د حل لپاره له ټولو مسؤولو ادارو سره نږدې او دوامداره همکاري ولري.

په همدې موخه مونږ د یوې ګډې تخنیکي کمېټې د جوړېدو وړاندیز کوو څو د ښــاروالۍ او ښــار جوړولو ریاست استازي پکې ونډه ولري او د ښــاري چارو پــر اغېزمن مدیریت ګډ کار وکړي.

د ناســتې ګډونوالو د ښاغلي مدني له وړاندیزه هرکلی وکړ او ژمنه یې وکړه چې د غزني ښــار د ښــاري پرمختګ او ښــې راتلونکې لپاره به په ګډه کار ته دوام ورکوي.

**کمیته تنظیم بازار شــاروالی ولســوالی غوربند ولایت پروان مطابق پلان کاری هفته وار خویش از خیاطی ها و بزازی های بازار ســیاګرد نظارت کــرد و در جریان نظارت برای مســؤولین خیاطی ها و بزازی ها توصیه گردید تا قوانین و مقررات شاروالی را در نظر گیرند.**



پروان ۶۵

## مدیریت عمومــی تنظیف شــاروالی تالقان بخش های از نواحــی چهارم و پنجم را پاک کاری نمود



تخار ۶۶

مدیریت عمومی تنظیف و سرســبزی شاروالی تالقان ولایت تخــار در ادامــه‌ی تلاش‌های دوامدار بــرای بهبود وضعیت محیط زیست شــهری، بخش‌هایی از نواحی چهارم و پنجم این شهر را از وجود کثافات و زباله‌ها پاک‌کاری نمود.

در این روند زباله‌ها و کثافات از ساحات مختلف جمع‌آوری و به بیرون از شــهر انتقال داده شد و هدف از این اقدام تأمین محیطی پاک، ســالم و عاری از آلودگی برای شهروندان شهر تالقان عنوان شده است.

شــاروالی تالقان از تمام باشندگان این شــهر تقاضا می نماید تا در حفظ نظافت محیط زیســت شهری با این اداره همکاری نموده و از انداختن زباله‌ها در مکان‌های عمومی خودداری نمایند.

## جلسه تنظیم شهری شــاروالی تالقان برگزار گردید



تخار ۶۷

جلسه‌ای پیرامون تنظیم امور شهری تحت ریاست سیف الدین یوســفی، سرپرســت شــاروالی تالقان ولایت تخار با حضور کارمندان این اداره برگزار گردید.

در این جلسه روی چالش‌ها و راه‌حل‌های مرتبط به تنظیم شهر به‌ویژه جلوگیری از فعالیت دست‌فروشان سیار کنار جاده، تنظیم شهری و پیش‌آمد دکان‌ها تبادل نظر صورت گرفت.

پس از جلســه کارکنان شاروالی تالقان بصورت عملی به سطح شهر برآمده و فعالیت‌های تنظیم شهری را آغاز نمودند. در نتیجه این اقدامات شماری از پیاده‌روها و جاده‌ها از وجود دستفروشان سیار پاک کاری گردید و چندین رسته از بخش‌های مزدحم شهر ترتیب و تنظیم شــد و برای بهبود نظم شــهری گام‌های مؤثر برداشته شد.

شاروالی تالقان تعهد سپرده است که این روند را به‌گونه دوامدار ادامه داده و در راستای ایجاد یک شهر منظم، پاک و قابل زیست از هیچ‌گونه تلاش دریغ نخواهد ورزید.

## ګردیز ښــار تېرې ښارګوټي شـپږ بسویي نمرو کې په یوه سړک کار روان ده




ګردیز ښار دویمې ناحیې اړوند، تېرې ښارګوټي شپږ بسویي نمرو کې پر مهم سړک د کانکریټ کولو لومړنی چارې روانې دي.

دغه ســړک چې د ملګرو ملتونو دفتر یونپس په مالي ملاتړ به یې پر تــاکلي وخت کارونــه معیار سره برابــر ترسره شي د جوړېــدو په کارونو کې یې د ۵۰۴ مترو په اوږدوالي، اوو مترو په پلنوالي کانکریټي ســړک او ورته اوږدوالي د ســړک دواړه غاړو ویالي شــتون لري، چې په جوړېدو به یې د دې سیمې خلک له ګڼو سهولتونو برخمن شي.

دغه ســړک د سیمې خلکو اساسي غوښتنه وه، چې د کارونو ترسراوي سره به یې د ســیمې ښــکلا ترڅنــګ له محیطي ککړتیاوو پاک چاپیریال رامنځته شي.

ګردیز ښاروالۍ د ښــاریانو او همکاره مؤسسو سره په بشپړې همغږۍ د اړتیا له مخې تولګټي پروژې په نښه کړي، چې له لومړیتوبونو پېژندلو وروسته پکې د خپلو ښاریانو هوساینې په موخه، د اړتیا وړ پروژې پلې کوي.

## ګرشــک ښار د ۱۴۰۴مالي کال د پروژو له جملې څخه د یوې پروژې لومړنی سروې وشوه




د ګرشک ښاروالۍ ریاست د ١٤٠٤ مالي کال د پروژو څخه یوه پروژه چې د ګرشــک ښــار د زوړ بازار د ځینو سړکونو بیاځلي جوړېدنه ده لومړنی مرحلې یې بشپړې شوې دي.

یاده سروې په ښــار کې د ازدحام په خاطر د فني انجینرانو له لوري د شپې ترسره شــوه چې ډیر ژر به یې عملاً کارونه شروع شي.

## شــاروالی گذره ولایت هرات بیش از ٦٢ ملیون عواید جمع آوری و در حدود ٥٠ پروژه کوچک تطبیق کرده است




شاروالی گذره ولایت هرات در سال مالی ١٤٠٣ هـ.ش بیش از ٦٢ ملیــون افغانی عواید جمع آوری نموده و در حدود ١٨ پروژه بــزرگ و ٣٢ پروژه کوچک در ســاحات مختلف گذره ولایت هرات تطبیق کرده است.

مفتی جمال الدین مسرور، شاروال گذره در مورد کارکردها و فعالیت های این این شــاروالی در سال مالی ١٤٠٣ هـ.ش برای اشتراک کننده گان توضیحات داد و از نمایندگان اقشار مختلف اهالی ولســوالی گذره خواهان همــکاری متداوم با شاروالی گذره جهت خدمت رسانی بهتر گردید.

مدیران عواید، خدمات و محاسبه شاروالی گذره گزارش ها و فعالیت هــای انجام شــده ایــن اداره را در ســال مالی ١٤٠٣هــ.ش ارائــه نمودند که در مجموع در ســال مالی ١٤٠٣هــ.ش به مبلــغ (٦٢٨٣٧٧١۴) افغانی عواید جمع آوری گردیــده و بــه مبلــغ (٦٢٧٠١١٠٩) افغانی مصرف کردیده است.

## فعالیت کمیته تنظیم شهری شاروالی تالقان جریان دارد




کمیتــه تنظیم شــهری شــاروالی تالقــان به‌منظور نظم بخشــی، زیباسازی و بهبود وضعیت شــهری، فعالیت‌های عملــی خود را تحت سرپرســتی محمد مــراد مهاجر، آمر حکومتداری شهری برگزار کرد.

آمر حکومتداری شــهری تالقان گفت: هدف ما ایجاد یک شهر منظم، زیبا و قابل‌زیست برای همه شهروندان است و از همه متشــبثین و شــهروندان خواســت تا در راستای رعایت مقررات شــهری بــا اداره شــاروالی تالقان همکار باشند.

کمیته تنظیم شــهری مصمم اســت تا با پی‌گیری منظم و برخورد قانونی با موارد تخلف، گام‌های موثری در راستای ایجاد نظم و انضباط در محیط شهری بردارد.

## جلســه هماهنگی با اصناف بازار ده بابا‌علی توسط شــاروالی محمودراقی برگزار گردید




جلســه به منظور بهبود نظم شهری و ارتقای معیارهای حفظ الصحه در بازارها تحت رهبری مدیریت عمومی حکومتداری شــهری و با حضور قصابان بازار ده باباعلی در تالار جلسات شاروالی محمودراقی ولایت کاپیسا برگزار گردید.

در جریان این نشســت در مورد جلوگیــری از آویزان نمودن گوشت در بیرون از دکان‌ها، منع فروش گوشت های مختلط وغیرصحی، قراردادن ترازو در ســطح مجاز (٦٠ سانتی‌متر) برای شــفافیت در وزن، الزامی‌بــودن داشتن یخچال برای نگهداری گوشت، استفاده از چپن لاجوردی به عنوان لباس مخصوص کاری بــرای قصابان، جلوگیــری از انداختن پر، پوســت و خون حیوانات در جوی‌هــا و مکان‌های عمومی، داشتن کارت صحی معتبر از صحت عامه، رعایت کامل اصول حفظ‌الصحــه در محیط و فضای دکان‌هــا بحث وتبادل نظر صورت گرفت.

## غــزني ښــار کــې ســبزي او میــوه پلورونکــو ته سپارښتنې وشوې




د بشپړ ښاري نظم راتګ او ګڼې ګوڼې د کمښت په موخه، غزني لیــن او ورغځېدلو فرعي ســړکونو کــې د لاسي توکو کوچنیو کاروباریانو ته د ښــاري هوساینې، سړکونو بندښت مخنیوي او پاک چاپیریال په برخو کې د عامه پوهاوي تر څنګ دوی وهڅول شول؛ خو ښاروالۍ اصولو ته ژمن او هڅه وکړي چې د تګ راتګ پر وړاندې یې ستونزې را ولاړې کړي له منځه یوسي.

ګردیز ښاروالۍ د ښاریانو د سوکالۍ او د ښاري نظم په موخه له پلو لارو او سړکونو د خنډونو لرې کولو کار لومړیتوب ګڼي څو د ښار ترټولو ګڼ نفوسه برخې له بې نظمیو پاکې شي.

# رغونه اونیزه

## د ولایاتــو او ولســوالیو ښــاروالیو د فعالیتونو او لاسته راوړنو خبري اونیزه

### لښــکرګاه ښــار د مدرسو او ښــوونځیو د کمپتو سره ناستې ترسره شوې




هلمند ۷۴

د هلمند لښکرګاه ښاروال حافظ صدیق په هدایت د لښکرګاه ښاروالۍ اړوند د مدرسو او ښوونځیو د تمثیلي ښاراوليو د کمپتو سره ناستې ترسره شوې.

د ښاري حکومتولی امر ملا فیض الله اخند د لښکرګاه ښاروالۍ اړوند د یو شمېر مدرسو او ښوونځیو د تمثیلي ښاروالۍ د کمېټو سره لیدنه وکړه.

ملا فیض الله اخند د خبرو پر مهال وویل: تاســو زده کوونکي لومړی د خپلې مدرسې او ښــوونځې شاوخوا پاکه وساتئ، زده کوونکــو او طالبانو ته د نظافت په هکله معلومات ورانديٰ کړئ، تاســو زده کوونکو ته د نیالګیو د ساتنې په هکله هم معلومات ورکړئ ترڅو ښاري ساحې مو شنې او سرسبزه وي.

د تمثیلي ښاراوليو د کمپتو غړو ژمنه وکړه چې د عامه پوهاوي په برخه کې به خپل د توان سره سم فعالیت کوي او زده کوونکو ته به د چاپېریال پاک ساتنې په هکله معلومات ورانديٰ کوي.

### ګردیز ښــار په ورځني ډول د نیالګیو خړوبولو چارې په ښه توګه ترسره کیږي




پکتیا ۷۵

ګردیز ښاروالۍ سرســبزي مدیریت له لوري، د ښار په محدوده کې د څلورلارو او په ښار کې د عمومي او فرعي سړکونو شاوخوا نیالګۍ او بوټي په منظم ډول خړوبیږي.

د دې ونو اوبه کولو لپاره کمو وســایطو او ټانکرونو شتون ګردیز ښــاروالۍ موجوده ستونزه ده، چې له امله یې ګردیز ښاروالۍ د نیالګیو خړوبولو په برخه کې له جدي ستونزو سره مخ کړې ده.

ګردیز ښاروالۍ سرســبزي مدیریت له شته کمو امکاناتو او اوبو ټانکرونو څخه اعظمي اســتفاده کوي او د ښار نیالګیو او بوټو د خړوبولو او ښې ساتنې په موخه، د شته ټانکرونو په ذریعه اوبه د ښار ټولو نیالګیو ته رسول کیږي.

### لښکرګاه ښــا د تزئین په موخه د اتمې ناحیې اړوند پر عمومي شهرا برقي پایې روښانه شوې



هلمند ۷۶

د لښــکرګاه ښــاروال حافظ صدیق په هدایت د ښار د اتمې ناحیې اړوند ســاحه د هلمند-کندهار عمومي شهرا سړک د منځ د ګلدان برقي پایې فعاله شوې.

د دویمې ناحیــې عمومي مدیر حافظ عمیر او د تنظیف او سرسبزۍ عمومي مدیر محمد نســیم سحر تر نظارت لاندې د تخنیکــي ټیم له لوري نن ماښــام د یادې ســاحې پایې روښانه شوې.

حافظ عمیر د ســیمې له اوســیدونکو څخه وغوښــتل چې د ښــار پــه پاکوالي کــې د اتمــې ناحیې سره همــکاري وکــړي او همدارنګــه ټینګار یــې وکړ چې ښــاریان دې د صفایې محصول پــر وخت تحویل کړي ترڅو ښاروالۍ پر وخت خدمتونه وړاندې کړي.

د یادې ساحې خلکو د ښــاروالۍ د دې اقدام هرکلی وکړ او خوښــي یې وښوده چې د ښــار اتمه ناحیه هم روښانه شوه، ژمنه یې وکړه چې د صفایې محصول د تحویلولو په برخه کې به ښه همکاري وکړي.

### ترینکوټ ښار د ســولې پارک اړوند د برمې (څاه) کندولو چارې ۱۰۰٪ سلنه بشپړې شوې

دا چې څــه موده مخکــې د ترینکوټ ښــاروال مولوی عبدالرشید هدایت الله په لارښوونه د سولې پارک اړوند د برمې کندولو چارې پیل شوې وې د ترینکوټ ښاروالۍ په خپلو عوایدو سره یې چارې ۱۰۰ ٪ سلنه بشپړې او ګټې اخستنې ته وسپارل شوې.

یاد پارک چې پر ۳۰ هکتاره ځمکه باندې جوړ شوی دی ۴۳۰۰ نیالګي او زینتي بوټي لري د اوبو د کموالي له کبله د وچکالۍ سره مخ وو؛ د دوو نورو څاګانو په شمول د یادې برمــې په کندولو سره به د یاد پــارک ونې او زینتي بوټي خړوب او د وچیدو مخنیوی به یې وشي.

د تخنیکي او مسلکي عمومي مدیریت د سروې پر اساس یاد پارک ته د اوبو رسولو لپاره ۲۰ دانې لمریزې هنداري، ۱ د ژوندۍ بریښــنا غټ مولد، ۳۵۰ متره د اوبو د انتقال پیپ، ۸۰۰ متره لین، ۲ غټ ګاډري چوکاټونه، ۷.۵ هارس پاور سمرسبل ته اړتیا وه، چې یاد توکي برابر او چارې یې مکمل بشپړې شوې.

په ورته وخت کې د یاد ریاست د تنظیف او سرسبزۍ مدیریت لخوا د ترینکوټ ښار د واټونو، ګلدانونو د سړک غاړې نیالګیو او بوټو د خړوبولو په موخه هم له مختلفو ساحو څخه د ټانکرونو په واسطه اوبه راوړل کیږي او نیالګي خړوبوي.

ارزګان ۷۷

### جلال اباد ښــار نهمه ناحیه کې ٦،٧ میلیونه افغانیو په ارزښــت د ســړک او ویالو جوړولو د کانکریټ چارې جریان لري



جلال اباد ۷۸

د جلال اباد ښــاروالۍ تر چتر لاندې د نړیوال بانک په مالي ملاتړ او د UNOPS مؤسســې په تخنیکي همکارۍ د نهمې ناحیې په ۷ ګــذر کې د ۵۷۰ مترو په اوږدوالي، د ۷ مترو په پلنوالي د سړک او ویالو جوړولو د کانکریټ کارونه جریان لري.

د جلال اباد ښــاروالۍ د تخنیکي او ســکتوري چارو رئیس انجنیر وحیدالله مخلص، د نهمې ناحیې امر ګل منیر ارمان او ورسره مــل پلاوي د پروژې له کارونو له نږدې لیدنه وکړه او د شرکت مســؤلینو ته یې د چارو د ښه والي په موخه لازمې سپارښتنې وکړې.

په یاده پروژه کې د ســیمې ۱۵۳ تنه کاریګر کار کوي. ٦،٧ میلیونه افغانۍ لګښت پرې راځي چې د نړیوال بانک له لوري ورکول کیږي. نږدې ۷۵ سلنه کارونه یې پای ته رسېدلي چې په نږدې راتلونکي کې به ګټې اخیستنې ته وسپارل شي.

د سیمې اوســېدونکو د جلال اباد ښاروالۍ تر چتر لاندې د یادې پروژې په ترسره کولو خوښي وښوده او په راتلونکي کې یې د لا نورو پروژو د پلي کولو غوښتنه وکړه.

د دې پروژو د تطبیق موخه د افغانستان په ښارونو او کلیو کې د لنډ مهاله کاري فرصتونو او لومړنیو خدمتونو وړاندې کول دي.

د جلال اباد ښاروالۍ رهبري هڅه کوي چې په تدریجي ډول د داخلي عوایدو او همکارو مؤسســو په مرســته د ښار ټول عمومي او فرعي سړکونه په اساسي ډول ورغوي.

کار اسفالت بخش باقی‌مانده سرک منتهی به زیارت گازرگاه شریف (خواجه عبدالله انصاری رح) مربوط ناحیه هشتم شهر هرات آغاز شد. این سرک که از مسیر پل باغ نظرگاه الی زیارت گازرگاه شریــف به طول ۲ کیلومتر در عرض ۸ متر همراه با احداث کانال‌های آن ساخته می‌شود کار آن به هزینه ۳۶ میلیون افغانی از بودجه انکشافی شاروالی هرات توسط یک شرکت خصوصی تطبیق می‌گردد.




هرات ۷۹

## مقبره‌های قبرســـتانی شمال هرات به همکاری بخش های مربوطه دو باره انتقال و دفن گردید



هرات ۸۰

مقبره‌های شماری از اموات مدفون در قبرســـتانی شمال هرات که تحت نقشـــه اعمار جاده قرار گرفته بود با هماهنگی آمریت امـــور فرهنگی و اجتماعـــی و همـــکاری بخش‌های تخنیکی شاروالی هرات جهت دفن مجدد به مکان دیگری منتقل گردید.

مولوی عبدالاحد خیرخواه، رئیس حکومتداری شهری شاروالی هرات، می‌گوید اداره‌ٔ شاروالی به‌منظور انکشاف و توسعه شهر، جاده کمربندی شمال هرات را در امتداد کمربند سبز این شهر از درب پارک تفریحی تخت صفر آغاز نموده و تا پل مرده‌کش‌ها و ختم نواحی هشتم و پانزدهم ادامه می‌یابد.

به گفته رئیس حکومتداری شـــهری شـــاروالی هرات در مسیر تطبیق این پـــروژه عام‌المنفعه شماری از مقبره‌های با ســـابقه بیشتر از ۳۰ سال قرار گرفته که حسب هدایت مقام اداره از آن ساحه انتقال و به مکان دیگری دفن مجدد شده‌اند.

در همین حال، حاجی غلام حضرت امینی، آمر امور فرهنگی و اجتماعی ریاست حکومتداری می‌گوید این آمریت در دو مرحله (اواخر ســـال ۱۴۰۳ و ماه ثـــور ۱۴۰۴) مجموعاً به تعداد ۵۷۴ مقبره را با همکاری آمریت اداری ذریعه اکســـکواتور و کارگران تنظیف به مکان دیگری منتقل کرده است.

باشنده‌های ولایت هرات با استقبال از تطبیق این پروژه عمرانی، فعالیت شاروالی در انتقال و دفن مجدد اموات را نشانه همکاری مستقیم شاروالی با مردم دانسته تعهد نمودند تا در عملی شدن کارهای عملی پروژه‌های شاروالی در نواحی پانزده‌گانه شهری، همکاری همه‌جانبه نمایند.

## زباله های شـــهری، خاکروبه سرک ها و آبیاری پارک‌ها و بلوارهای داخل شـــهر فیروزکوه توسط تیـــم تنظیف و سرسبزی ریاست شـــاروالی فیروزکوه پاک کاری و انتقال داده شد.


غور ۸۱

## غزني ښار د اربابا صاحب د لومړی پروژې د کانکریټ چارې پیل شوې


غزني ۸۲

د غزني ښاروالی ریاست او ملګرو ملتونو د پروژې خدمتونو د دفتر (UNOPS) پـــه همـــکاری، د اربابـــا صاحب د لومړی پروژې د سرک د کانکریټ چارې پیل شوې.

دغه پـــروژه د کار په بدل کې نغدو پیســـو د پروګرام تر چتر لاندې عملي کېږي.

چې له مخې يې کارکوونکو ته د ترسره شـــوي وظيفې په بدل کې نقدي پيسې ورکول کېږي.

یاد سرک د کابل-کندهار له عمومي سرک څخه پیلېږي او تر دولتابـــاد پروژې پورې غځېدلی ۶۰۰ متره اوږدوالی ٦ متره پلنوالی او ٦۰۰ متره لښتي لري تمه کېږي د یوې میاشتې په موده کې به یې چارې بشپړې شي.

د دې پـــروژې موخه د ښـــار اوســـېدونکو ته د ترانســـپورټي اسانتیاوو برابرول د ختو او دوړو مخنیوی او همدارنګه د کاري فرصتونو رامنځته کول دي.

## لښـــکرګاه ښار د تزئین په موخه د شـــورمانو د مخې پارک برقي پایې روښانه شوې

د لښکرګاه ښاروال حافظ صدیق په هدایت د لښکرګاه ښار د دریېمي ناحیې اړوند سیمه کې د شورمانو د مخ پارک کې داخل برقي پایې فعاله او روښانه شوې.

د دویمـــې ناحیې عمومي مدیر حافظ مولوي عمیر او د تنظیف او سرســـبزی عمومي مدیر محمدنسیم سحر تر نظارت لاندې د تخنیکي ټیم له لوري نن مانبام د یادې ساحې برقي پایې روښانه شوې.

حافظ عمیر د ســـیمې اوسېدونکو څخه وغوښتل چې د پارک او د برقي پایو په ســـاتنه کـــې همکاري وکړي او همدارنګـــه ټینګار یې وکړ چې ښـــاریان دې د صفایي محصول پر وخت تحویل کړي ترڅو ښـــاروالي پر وخت خدمتونه وړاندې کړي.

د یادې ساحې وکیل مولوي اغا د ښاروالی د دې اقدام هرکلی وکړ او خوښي یې وښوده چې د ښار دا برخه هم روښانه شوه.

هلمند ۸۳

## خوست ښـــاروالی ډېر ژر به په ښـــار کې د روښنايي پروژه ګټې اخیستنې ته وسپارل شي


خوست ۸۴

د خوســـت ښـــاروالی له لوري تېر کال د نـــورو رغنیزو پروژو ترڅنګ د ښار د روښنايي پروژه پلان کړې وه، چې د دواخانو لین، ګوړې لین، د بې سرحده روغتون څخه تر سپین جومات او همـــداراز د صرافانـــو له نوي مارکېټ څخـــه تر بابري ګل کلینیک او د ناکامورا څلورلارې پورې د پایو نصب شامل و.

یادې پایې د انجنیرانو په شتون کې له بریښنا سره د کتنې په موخه وصل شـــوې او د نیمګړتیاوو له اصلاح وروسته به یاده پروژه ډېر ژر ګټې اخیستنې ته وسپارل شي.

د یادونې وړ ده چې تېر کال خوســـت ښـــاروالی د ښار په یو شمېر لویو جادو (سړکونو) کې د روښنايي پروژې په ترڅ کې شـــاوخوا ۱۲۰ پایې نصب کړې، چې تر اوسه یې پایله ښه ده او ښاریانو یې هرکلی کړی دی.

## مهترلام ښـــار په دویمه ناحیه کې د ویالـــو پاکولو او کثافاتو انتقال چارې ترسره شوې


لغمان ۸۵

د ښـــاري نظم او پاک چاپېریال ســـاتنې په موخه د مهترلام ښـــاروالی د دویمې ناحیې د تنظیف او سرســـبزې زیارکښو کارکوونکو له لوري د مهترلام ښار اړوند د سبزې مارکېټ او د حاجیانو سرک غاړې ویالې او پلچکونه پاک شول.

یادو کارکوونکو له ویالـــو او پلچکونو څخه خځلې او کثافات راټول کړل، ترڅو اوبو د بهېدو مخه خلاصه او ښار له ناپاکۍ څخه وژغورل شي.

همداراز د یادو کارکوونکو له لوري یو شمېر کثافات هم راټول او لرې خوندي ځای ته انتقال او هلته دفن شول.

د مهترلام ښـــاروالی رهبري د مهترلام ښـــار له ټولو ښاریانو غوښـــتنه کوي چې د ښار په پاک ساتلو کې له ښاروالی سره همکاري وکړي، کثافات د ښـــاروالی له لوري په لګول شویو کثاف دانیو کې واچـــوي، ترڅو د تنظیف کارکوونکي یې یو لرې ځای ته انتقال او دفن کړي.